سرلوڅ مرادزی ۲۰۱۲ / ۰۱ / ۳۱

د تړونو لاسلیک د ملي پرمختیا لوري پرانیستل

د روان کال په پیل سره ترکمنستان، ایټالیي، فرانسې او انګلیستان ته، د افغانستان د ولسمشر حامد کرزي سفر او له دغو هیوادونو سره د راتلونکي په اړه د ګټورو اړیکو او په دې ډله کي له دریو روستیو هیوادونو سره د تړونونو په لاسلیک، افغانستان د ځان په وړاندې د ملي پرمختیا نوي لوري پرانیستل.

کرزي چې اروپا ته یې سفر د جنوري په ۲۵ مه له ترکمنستانه پیل کړ، هلته یې په ترکمن باشي ښار کي د لیدو په مهال د افغانستان له لارې پاکستان او هند ته د ترکمنستان د غازو د نللیکي یا ټاپې، د اورګاډي د پټلۍ او افغانستان ته د ترکمن بریښناد لیږدولو پر چارو خبرې وکړي.

د افغان چارواکو په وینا د ترکمنستان له اته مراد څخه تر اقیني پورې د ۸۶ کیلو مترو په اوږدوالي د اورګاډي پټلۍ د پروژې د مطالعې او ډیزاین کار بشپړ شوی او سږکال به یې عملي کار پیل شي.

همدارنګه په دې سفر کي کرزي ایټالیا سره « د دوه اړخیزمشارکت او همکارۍ توافقلیک »، فرانسې سره « د دوستۍ او همکارۍ تړون » چې شل کاله په اعتبار لري او انګلیستان سره د « دوامداره ستراتیژیکو اړیکو لاسوند » چې دا به هم شل کلونه اعتبارلري، لاسلیک کړل.

ددغو توافقلیکونو او تړونونو لاسلیک څرګندوي چې اروپا له ۲۰۱۴ کال روسته هم افغانستان سره د امنیت، ښې حکومتوالۍ، د قانون د پلیتابه او د ملي پرمختګ په بیلا بیلو برخو کي د مرستو په اړه ځان ژمن بولي. دا ټولې په ریښتیا هم د افغانانو او نړیوالود روستیو کلونو د هلو ځلو ښې او ګټورې پایلې ګڼل کېدای شي.

په سیمه ایزه کچه چې سرابښ ګاونډیان تل د افغانستان لاسته راوړنې او بریاوې د شک په سترګه ګوري او د ښیګڼې هیڅ پیرزو نه لري، خو ددې پرمختیاوو په وړاندې یې تر اوسه په ښکاره کوم جدي غبرګون ونه ښود. که څه هم ځینې به د سرابښتوب د بټۍ په لمبو کي سوځیدلي وي او تر پردې شاته به د افسوس او تربګنۍ غاښونه چیچي خو په څرګنده نه غواړي په نړیوال رسنیز ډګر ځانونه رسوا کړي. دوی به بیا هم فرصت لټوي، تر څو خپلو لاسوهنو او دوښمنیو ته په بله او نوي بڼه رنګ ورکړي.

په کور دننه هم، د افغانانو بیلا بیلو سیاسي ډلګیو او وسلوالو ګروپګیو سرونه د سوچ پر زنګنو ځوړند نیولې خوشحاله یا خپه، خو د چا له خولې اه، ونه خوت.

د افغانستان او مرکزی حکومت په داسې پر مختیاوو او لاسته راوړنو به، مخکې د معمول پشان په حکومت کي داخل اپوزیسیون هم نکړي پکړي کول او د ملی توب تر ماسک لاندې به یې توطیې او سیاسي نخرې کولې، خو دا ځل چوپ پاتې شول او اوبه له ځایه ونه ښورېدلې. ته به وایی د کلونو پر ټپونو یې د ملهمو پټې پورې شوې، باغچې سمسورې او ګلونه وغوړیدل، د نخا او ګډا محفلونه پرانیستل شول او د څښلو رنګینه جامونه وګړنګېدل او پورته شول.

د حکومت وسلوال اپوزیسیون طالبانو او د حکمتیار صاحب اسلامي ګوند هم چې په داسې حالاتو کي به یې لکه د هر برات او اختر په ورځو کي د حکومت او امنیت په مخالفت او ضدیت اعلامیه خپروله، د لومړي ځل لپاره یې ددې تړونونو په لاسلیک سره د جهاد د عمرونو ارمان پوره شو. دوی له هغه مهاله چې د انګریزانو سره یې د تړون لاسلیک او دا خبره چې د بریتانیا لومړي وزیر ډیویډ کامرون کړې « موږ له افغانستان سره د اوږدمهالو اړیکو غوښتونکي یوو.» واوریده د دوی پر زړونو یخې اوبه توی شوې، ښایی کرزي ورته د کامرون صاحب ځانګړي سلامونه هم

افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وررسولي وي ، نو لکه چې وايي چوپتيا د رضا نښه ده، راضي او د حال په ژبه به يي دې ترونونو ته لبيک او بيا لبيک ويلی وي!

تکنوکراتانو خو به لا د کرزي په سرمشرۍ هلته په يورپ کې د خوشحالۍ جامونه يو به بل پسې پر سر رغړولي وي او په اند يی د بريالیتوب په سرو سترګو بېرته کابل ته راستانه شول.

فکر کوم د لومړي ځل لپاره روستيو څو کلونو کې افغانان، د يوه عمل په وړاندې دومره په يووالي او اتفاق راوځلېدل. که ما نه وي غلطه کړي او په دې ترونونو ټول افغانان راضي شوي او خوشحاله شوي وي نو بيا زه او ته څوک يوو چې ددې خوشحالۍ په اتڼ کې ورګډ نه شو. دا چې طالب جان، حکمتيار صاحب، سياف، مجددي، پير صاحب، مارشال، د سرې او شنې غدۍ ټول ډاکوان لکه ماران د سوړې په خوله کې سره يوځای کيږي، شخړه او جګړه پرې سړه او پايته رسيږي او افغانان پر يوه چرګۍ راټوليږي، د خير او برکت نورې نښې هم مخې ته پرتې ښکاري نو بيا دا ولې دم غنيمت ونه ګڼو!

خو پر دوی ټولو به د لوی اختر جشن هغه ورځ وي چې د امريکا سره ستراتيژيک تړون لاسليک شي . د جهاد واقعي ثمره او ښېګڼه به په هغه ورځ د لېدو وړ وي او مياشت به د تورو لړو له منځ څخه هغه ورځ راښکاره شي او د پامير د بام پر کنډو به ټوله ولېدل شي او افغانان به ټول ايله په هغه ورځ پوه شی چې دا څو لسيزې جګړه د څه لپاره وه ؟!

خو د لوبې بله برخه او پټه ننداره به په ولسي جرګه او مشرانو جرګه کې پيليږي. ويل کيږي چې په دغو ترونونو کې يې ځينې بايد د هيوادونو له پارلمانونو څخه د هوکړې رايه واخلي. د بيلګې پټوګه فرانسې سره تړون بايد د دواړو هيوادونو له پارلمان څخه تير شي او هلته پرې هم هوکړه وشي. دلته بيا هم خدای په پارلمان کې ميشتومجاهدينو ته لکه سياف چې ويلي و « به خدا داده گان ستيزه مکن که خدا دادگان را خدا داده است » غواګانې لنګې ښکاري!

د افغانستان ولسي او مشرانو جرګه چې له نيمايي زيات استازي يي د پاکستان او ايران د استخباراتي کړيو ياران او خواخوږي دي او د ويکي ليکس د لاسوندونو له مخې يی څوتنه د ايران پخوانی معاشخواره دي، کولای شي ددې هيوادونو په امرونهي پارلمان څخه د تړونو په هوکړه کې مرکزي دولت او د تړونو بل لوري ته ستونزې پيښې کړي. مخکې امريکا سره د ستراتيژيک تړون په اړه هم د دوديزې لويي جرګې پر سر ولسي جرګه دوه ځايه شوې وه او دا ځل به هم يو شمير استازې مرور شي چې پوخلاکول به يي په بوجيو يورو، ډالرو او سترلينک پونډو ته خبره راکاږي.

خو بيا هم دا چې د ملي شورا يو شميرغړي په پيسو راضي کيدای شي، نو که د ايران او پاکستان څخه بل چا زياتې پيسې ورکړي، اوښ به د هغوی پرخوا چوو کړي. که معامله په پيسو فيصله کيدلای شی نو بيا خو د پارلمان په وړاندې بله ستونزه نشته.

ملنګه دوه ګټې دې وکړې
يو دې خير ټول کړ بل دې وکړل ديدنونه
هم به ترونونه لاسليک شی او هم به جيبونه ډک شی !
د کور ګټه د لاهور ګټه !

پای

افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ